PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

# DAILY اراده

۹۸۴

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یولسم کال - دویمه دوره، ۹۸۴مه گڼه، پر له پسې ۲۰۵۱ گڼه د ۱۳۸۹ ل.د کب لومړۍ - د یکشنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق ربیع الاول ۱۶ مه د ۲۰۱۱ د فبروري ۲۰مه

## پرون په جلال اباد کې پر کابل بانک د برید لـــه امله ۸۲ تنه مـــړه او ژوبـل شول

د ننګرهار د عامې روغتیا مسوولین وایي، چې پر کابل بانک د وسلوال برید له امله ۱۰ تنه وژل شوي او ۷۲ نور ټپیان دي. دغه پیښه پرون د (سلواغې پر ۳۰مه) له غرمې مخکې په یوولس نیمو بجو رامنځ ته شوه او سیمه د امنیتي ځواکونو له خوا کلا بنده شوه.

د کابل بانک ودانۍ د جلال اباد ښار د مخابراتو په څلور لارې کې ښاروالۍ ته مخامخ په کامران پلازه **۳مخ**

# پیش شرط های کرزی برای ایجاد پایگاه های دایمی امریکا در افغانستان

حامد کرزی دیدگاه کشورهای همسایه در مورد ایجاد پایگاه های نظامی دایمی امریکا در افغانستان را مهم خواند و یک بار دیگر تاکید کرد که در مورد ایجاد این پایگاه ها، نهادهای ملی افغانستان تصمیم اتخاذ خواهند کرد.

رییس جمهور کرزی این مطلب را دیروز در نشست خبری مشترک با ایو یوسیوویچ (Ivoyosipovic) رییس جمهور کروشیا در کابل، بیان کرد.

کرزی گفت که مذاکره برای ایجاد روابط استراتیژیک بین افغانستان و ایالات متحدهٔ امریکا، چندی قبل صورت گرفته و بعضی مقام های امریکایی، خواهان ایجاد پایگاه های نظامی دایمی امریکا در افغانستان، شده اند.

موصوف طوری که قبلاً در یک نشست خبری گفته بود، خاطرنشان ساخت که موقف افغانستان در این مورد واضح است و باید تصمیم در این مورد را، شورای ملی و لویه جرگهٔ افغانستان اتخاذ کند.

وی تامین صلح در افغانستان را پیش شرط برای ایجاد پایگاه های یادشده خواند و گفت: "جنگ در افغانستان جای ندارد و مبارزه علیه تروریزم، نمی تواند که دردهات افغانستان و یا درخانه های مردم افغانستان و یا حملهٔ شبانه در خانه های مردم افغانستان باشد."

کرزی با بیان اینکه بارها در مورد جلوگیری از عملیات خودسر با مقام های نیروهای خارجی در افغانستان صحبت کرده است، گفت که دوشب قبل، نیروهای ص۳

## امریکا او له طالبانو سره مخامخ خبرې

نیویارکر مجلې د جمعې دورځې په ګڼه کې راپور ورکړی، چې د ولسمشر بارک اوباما حکومت د وسلوالو طالبانو له جګپوړو مقاماتو سره مخامخ خبرې پیل کړي دي.

طالبانو پخوا څو ځلي ویلي وو چې د کابل له حکومت سره نه غږیږي ځکه چې د خبرو صلاحیت نه لري، خو حاضر دي چې له امریکا سره مخامخ خبرې وکړي.

د اوباما حکومت غواړي چې معلومه کړي د طالبانو په مشرانو څوک د افغانستان د سولې رسمي خبرو ته لېوالتیا او څه شرایط لري.

د نیویارکر د تېرې ورځې په ګڼه کې د پولیټزر جایزې ګټونکي ژورنالیست سټیف کول د ګڼو سرچینو په قول، چې نومونه یې نه دي اخیستي، ویلي چې د امریکایي او طالب مقاماتو ترمنځ مخامخ خبرې پیل شوي دي.

وړمه ورځ د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې هیلري کلنټن وویل د افغانستان جګړه به یوازې له سیاسي لارې اواره شي.

مېرمن کلنټن په نیویارک کې دوینا په مهال وویل: «موږ به هیڅکله دومره سخت دریځي ونه وژنو چې له دې لارې جګړه پای ته ورسېږي.



دې هیله څرګنده کړه چې طالبان به ځانونه له القاعده شبکې بېل کړي. دې دا هم وویل چې تېرکال د امریکایي پوځیانو د عملیاتو یو هدف دا و چې طالبان کمزوري او له القاعده شبکې بېل شي او سولې ته حاضر شي.

مېرمن کلنټن دا هم وویل چې طالبان په ۲۰۰۱ کال کې هم هغه مهال له دې ډول انتخاب سره مخامخ شول چې د امریکا متحدو ایالتونو پر افغانستان **۳مخ**

## د ولسي جرګې رییس به له یوې بلې لارې وتاکل شي

ولسي جرګې له اوږدو ناندریو وروسته هوکړه وکړه، چې خپل مشر به د یوه سیاسي حل، له لارې تاکي.



دغه طرحه د هغه ځانګړې ۶۱ کسیز کمېسیون له خوا وړاندې شوه، چې د ټولو ولایتونو وکیلانو په کې برخه درلوده او تېره اونۍ یې پر کار پیل وکړ.

د دغه کمېسیون غړي او په ولسي جرګه کې د کابل استازي محمد محقق، چې د یاد کمېسیون په استازیتوب یې خبرې کولې، وویل چې کمېسیون درې طرحې لري.

د نومورې په وینا، یا به د ولسي جرګې د مشرتابه د غوره کولو لپاره سیاسي حل ته مراجعه کېږي، یا دې دغه موضوع د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمېسیون ته **۳مخ**

## اعضای انتصابی مشرانو جرگه معرفی شدند

لست اعضای انتصابی مشرانو جرگه، از سوی رییس جمهور تکمیل و به کمیسیون مستقل انتخابات معرفی گردید. محمدعلم ایزدیار معاون مشرانوجرگه، دیروز گفت که در لست یادشده، ۱۸ تن از سناتوران سابق و۱۶تن دیگراز چهره های جدید شامل اند. ایزدیار به نقل از ریاست ادارهٔامور افزود که طیبه زاهدی، حمیرا نعمتی، نفیسه سلطانی، صدیقه بلخی، روشن آرا الکوزی، سهیلا شریفی، سارا سرخابی، نجیبه حسینی، صبغت الله مجددی، سیدحامد گیلانی، مولوی ارسلا رحمانی، شیرمحمد آخند زاده، محمدحسن هوتک، محمدعیسی خان شینواری، حاجی نظرمحمد، عبدالباقی بریال، سلیمان یاری و استاد عبدالشکور شکور از جمله چهره های سابق اند که در لست اعضای انتصابی جدید نیز، موجود اند. ایزدیارهمچنان افزود که در حال حاضر، این فهرست به کمیسیون مستقل انتخابات فرستاده شده و قرار است، نهاد یادشده، این لست را به وزارت دولت در امور پارلمانی و بعداً به مجلس سنا ارسال کند. موصوف در حالی که از لست تمامی اعضای معرفی شدهٔسنا، معلومات دقیقی در دست نداشت؛ اما گفت که احتمالاً واصفی از بدخشان، لیلما احمدی از پنجشیر، صفیه صدیقی و ملالی شینواری از ننګرهار شامل فهرست این ۱۶تن باشند. فهرست اعضای انتصابی مشرانوجرگه، درحالی تکمیل گردیده است که به تاریخ ششم دلو امسال، دورهٔ جدید تقنینی افتتاح گردیده است و مشرانوجرگه نیز، اعضای هیأت اداری خود را انتخاب کرده اند.

## روسیه نه غواړي، چې امریکا دې په افغانستان کې دایمي پوځي اډې جوړې کړي

روسیې پر متحدو ایالتونو ټینګار کړی، چې په افغانستان کې دې دایمي پوځي اډې نه جوړوي، ځکه داسې اقدام یې په افغانستان کې د سولې لپاره روانې هڅې اغېزمنوي او ګاونډي هېوادونه خوابدي کوي.

دا څرګندونې د روسیې د بهرنیو چارو وزارت په خپل خپاره کړي بیان کې کړي او د دغو اډو د جوړېدو مخالفت یې کړی دی. د دې وزارت په بیان کې راغلي، دغه ډول معلومات یوه مفکوره ایجادوي او زیاتې پوښتنې زېږوي.

په بیان کې راغلي، امریکا ولې د تروریستي ګوابنو له کبله په افغانستان کې دایمي پوځي اډې جوړوي، ایا کابل به دا وړتیا ولري چې د دایمي پوځي اډو په برخه کې خبرې اترې د سولې له خبرو اترو سره همغږي کړي، د افغانستان ګاونډي هېوادونه به په افغانستان کې دایمي پوځي اډو ته په کومه سترګه ګوري. **۳مخ**

## تخطی از قانون گناه است و اعتنا نکردن به تطبیق آن جفا

۲

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

## سر مقاله

## آیا این کمیسیون دردی را دوا خواهد کرد؟

ولسی جرگه همچنان در بن بست به سر می برد؛ این جرگه دیروز داخل چهارمین هفتهٔ خود بعد از افتتاح دور جدید شد. با وصف آنکه از افتتاح این جرگه نزدیک به یک ماه می گذرد، ولی نتوانسته هیچ کاری را به پیش ببرد. در حالی که به شمول بودجهٔ سال جدید، ده ها قانون در انتظار تصویب در کمیسیون های مجلس سرگردان است، اما ولسی جرگه تا کنون نتوانسته، یکی از وظایف کلیدی و اساسی یا به اصطلاح میتا وظیفه را که تعیین رییس ولسی جرگه است، انجام بدهد. اینکه چرا ولسی جرگه با گذشت مدت زمان زیادی نتوانست هیأت اداری و رییس را انتخاب نماید، این مسأله را نیز همه می دانند که نماینده گان ولسی جرگه اکنون در زدوبندها و معامله های سیاسی گیر مانده و جرگه کاملا به میدان بازی ها و معامله های سیاسی حلقات دستگاه قدرت و بیرون از قدرت تبدیل شده است.

به هر حال، در نهایت نماینده گان ولسی جهت بیرون رفت از معضلهٔ پیشامده، دیروز به تشکیل یک کمیسیون زیر نام " کمیسیون تفاهم سیاسی" که ۶۰ عضو و در آن از هر ولایت نماینده یی حضور دارد، موافقت کردند، به گمان اینکه بتوانند، به بن بست جاری پایان بخشد و ولسی جرگه صاحب رییس شود.

هرچند تفاهم سیاسی و گروپی سنگ بنای همسویی طرف های مقابل را در یک پارلمان تشکیل می دهد و تشکیل چنین کمیسیونی برای بیرون رفت از بن بست پیشامده می تواند، در پارلمانی که در آن موازنهٔ طرف ها موازی باشد، کارا باشد، ولی در ولسی جرگهٔ موجود موازنه به هم خورده و در عین حال، دست های پیدا و پنهان معامله فعالتر است.

چنین به نظر می رسد، تا زمانی که به صف آرایی هایی گروپی و حزبی در پارلمان موجود پایان داده نشود، مداخله های دستگاه قدرت و بیرون از قدرت قطع نشود و نماینده گان ملت به مثابهٔ نماینده گان ملت، نه نماینده گان حزب، گروه و حلقهٔ خاص، منافع علیای کشوری را بر منافع و اهداف خاص حزبی و گروپی ترجیح ندهند و بر مبنای آن جهت تعیین رییس و هیأت اداری مجلس گام بر ندارند، فکر نمی شود، به این معضله به این زودی ها راه حلی به سراغ آید.

بادرنظرداشت وضعیت جاری و صف آرایی های موجود در مجلس، کمیسیون جدید التشکیل به هیچ صورت نخواهد توانست کاری را به پیش ببرد؛ زیرا هیچ تضمینی وجود ندارد که این کمیسیون هم از مداخلهٔ دست های پیدا و پنهان بازیگران که معامله ها و زدوبندهای شان مجلس را به این بن بست کشانده، در امان باشد.

بنابراین، راه حل اساسی باید جستجو شود؛ این را همه می دانند که این راه تنها می تواند، در پایان بخشیدن به مداخله های بیرونی و معامله های جاری طرف های درون و بیرون دستگاه قدرت جستجو شود و بس.

# تخطی از قانون گناه است و اعتنا نکردن به تطبیق آن جفا

الحاج محمد سالم دیانی از جرمنی

با عرض معذرت قبل از اینکه در موضوع مورد بحث وارد شوم، به قول یکی از دانشمندان دنیای غرب که به این موضوع رابطهٔ مستقیم دارد، استناد می کنم. وی گفته است: " زنده گی در مملکتی که قانون نباشد، بهتر است از زنده گی در مملکتی که قانون باشد، ولی درست تطبیق نگردد." این سخن پرمحتوا به وضع افغانستان و دوران زمامداری آقای کرزی صادق است؛ زیرا که ما از رسانه ها شندیم که محکمهٔ ابتداییهٔ ولایت کابل عبدالاحد صاحبی سابق شاروال کابل را به اتهامی که به او وارد بود، به چهار سال حبس تنفیذی و مصادرهٔ یک مقدار پول محکوم نموده بود، ولی قبل از آنکه متهم خود بتواند، در دو محکمهٔ دیگر که پیشرو دارد، بیگناهی خود را ثابت نماید، آقای کرزی رییس جمهور افغانستان که خود مجری و حامی قانون است، به حیث وکیل مدافع از وی حمایت می کند و او را آدم خوب معرفی می نماید و حکم محکمه در معرض تطبیق قرار نمی گیرد و به قانون اعتنایی نمی شود. درست است که قانون اساسی افغانستان حق تخفیف و عفو مجازات را به رییس جمهور داده است، اما چرا قبل از نهایی شدن حکم دو محکمهٔ دیگر چنین اقدامی سوال برانگیزی که نمایانگر قانون شکنی است، صورت می گیرد. آیا این خود به این معنا نیست که در افغانستان دارنده گان مقام های بالایی مقدسین غیر مسوول هستند که اگر متهم به جنایتی باشند و به حکم محکمه محکوم شناخته شوند، حکم محکمه بالای شان تطبیق نمی گردد و این حکم بالای ماموران پایین رتبه و کسانی که روشنایی ندارند، تطبیق می گردد. اگر چنین نیست پس چرا شاروال از حکم محکمه که حبس تنفیذی است، مستثنا قرار می گیرد؟ اگر این قانون شکنی نیست، پس چیست؟ و این تنها نیست، موارد دیگری هم از قانون گریزی در دوران زمامداری موقت آقای کرزی صورت گرفته است و آن اینکه بعد از سقوط حکومت طالبان یک تعداد اشخاصی که از شمال وارد کابل گردیدند، بدون سابقهٔ کاری و بدون داشتن تحصیلات اکادمیک نظامی یکدم به مقام های بلند عسکری از قبیل تورنجنرالی، دگرجنرالی و سترجنرالی رسیده اند و آقای کرزی هم که به تازه گی سمت رهبری کشور را در دست گرفته بودند، با خوشباوری و مهربانی از حد زیاد فرمانی را صادر کردند و یکی از آنان را به رتبهٔ مارشالی که بزرگترین و آخرین رتبه در نظام عسکری است، ارتقا بخشیدند که این موضوع سوالاتی را نزد اکثریت مردم و آن عده از صاحب منصبانی که تحصیلات اکادمیک نظامی دارند و هنوز به این مقام های عالی دسترسی پیدا نکرده اند، به وجود آورده است. زیرا که از نگاه قانون هیچگاهی جز در موارد استثنایی و حالت اظطراری، اگر صاحت منصبی مصدر خدمت فوق العاده یی گردیده شده می باشد، به یک رتبه ترفیع چنانکه امروز هم معمول است، نایل می گردد؛ در غیر آن، هیچ صاحب منصبی بدون طی مراحل قانونی و بدون اخذ سجل خوب، به مقام ها و رتب بلند رسیده نمی توانستند و من یقین دارم که اگر آقای کرزی از قانون عسکری افغانستان که در آن گفته شده بود: " مارشال کسی شده می تواند که در جنگ های خارجی اشتراک نموده

ص۳

## تظاهر کننده گان در کشورهای ...

روز سه شنبهٔ گذشته به اینسو به این طرف آغاز گردیده، مردم خواهان اصلاحات وسیع سیاسی در کشوری شدند که توسط یک پادشاه سنی مذهب اداره می شود، ولی ۷۰ درصد نفوس آن را شیعه ها تشکیل می دهند. عابد ال جلیل خلیل رهبر حزب مخالف به آژانس رویترز گفته است، هجوم پولیس یک تروریزم واقعی بود.

**خلیل افزود:**

"اینجا برای جلوگیری از رویارویی و کشتار بیشتر از یک طریقه یا انتخاب وجود دارد. هر کسی که این تصمیم را اتخاذ نمود مقصد او کشتن بود."

حزب مخالف وفاق در اعتراض به سرکوبی تظاهر کننده گان توسط پولیس، رفتن به پارلمان را تحریم کردند. از سال ۱۹۷۱ یا سال استقلال بحرین از بریتانیا به این طرف، تنش ها میان نخبه گان سنی ها و شیعه ها مکرراً باعث ناآرامی در بحرین شده است.

پنتاگون یا وزارت دفاع امریکا، از تمام جوانب خواسته است، از خشونت خودداری نمایند. در بحرین قوای سریع الحرکت شماره پنج بحری امریکا مستقر است که گفته می شود، برای حفظ موازنهٔ قوا در برابر ایران مهم می باشد. بان کی مون سر منشی ملل متحد گفت، خشونت های بحرین عمیقاً نگران کننده می باشد.

**بان کی مون افزود:**

"بسیاری جوان ها به علت نبود کار مناسب، نبود آزادی بیان، نبود آزادی اجتماعات و نبود آزادی ارتباطات مایوس و ناامید هستند که باید کاملاً تضمین گردد و این چیزهایی می باشد که در منطقه نادیده گرفته شده است. این درسی است برای رهبرانی که باید بیاموزند و تلاش کنند، تا هرچه زودتر دست به تغییرات و اصلاحات بزنند."

خانم کلنتن وزیر خارجهٔ امریکا گفت، من به همتای بحرینی خود از طریق تیلفون صحبت کردم و نگرانی های ما را راجع به اقدامات نیروهای امنیتی بحرین برایش رساندم."

خالد ال خلیفه وزیر خارجهٔ بحرین سرکوبی تظاهر کننده گان را ضروری دانست و گفت:"کشور در آستانهٔ غرق شدن به سوی خشونت های فرقه یی و دو قطبی شدن می رفت. بناً بسیار مهم بود که اقدامات لازم صورت می گرفت."

وزیر خارجهٔ بحرین همچنان به علت خشونت ها اظهار تاسف نمود. به تعقیب انقلاب تونس و مصر جهان در هفتهٔ گذشته، شاهد تظاهرات گستردهٔ ضد دولتی در کشورهای الجزیره، اردن، لیبیا، یمن و ایران بودند که از نبود اصلاحات اساسی اقتصادی و سیاسی ناشی شده است.

## تخطی از قانون گناه است...

و فتح کرده باشد." آگاهی می داشتند و یا می دانستند که الی رسیدن به مقام مارشالی، سه رتبهٔ بلند عسکری از قبیل تورنجنرالی، دگرجنرالی و ستر جنرالی وجود دارد، مشتی به تاریکی نمی زدند و برخلاف قانون یک فرد ملکی بدون تحصیلات اکادمیک نظامی را چهار رتبه ترفیع نمی داد. این موضوع نه تنها در افغانستان، بلکه در دنیا هم سابقه ندارد که یک فرد ملکی بدون داشتن تحصیلات اکادمیک نظامی مثلا یک برید جنرال اعزازی چهار رتبه ترفیع نماید و یکدم به مقام مارشالی نایل گردد و اگر آقای کرزی دانسته چنین کاری را انجام داده اند، قانون را زیر پا کرده اند. این مقولهٔ قانون شکنی در مورد آن عده از جنرال صاحبانی که بدون طی مراحل قانونی و بدون داشتن سابقهٔ کاری و نداشتن تحصیلات اکادمیک نظامی به مقام های بلند عسکری نایل گردیده اند نیز، صدق می کند؛ زیرا که هیچ یک از صاحب منصبان اردو و لو اینکه دارای تحصیلات اکادمیک نظامی هم بوده باشند، بدون طی مراحل قانونی که برای هر رتبه در نظر گرفته شده است، به مقام ها و رتب بلند عسکری رسیده نمی توانند و اگر فی المثل گفته شود که آقایان این امتیازات را از برکت جهاد در مقابل ابر قدرت شوروی به دست آورده اند، این توجیهی هم نمی تواند ایشان را به این مقام ها و رتب بلند برساند؛ زیرا که شوروی در ۶ جدی ۱۳۵۸ شمسی به افغانستان تجاوز کردند و در ۲۶ دلو ۱۳۶۷ شمسی بعد از هشت سال در اثر رشادت و مقاومت رادمردان افغان از افغانستان رانده شدند و افتخار بالای افتخار از آن کسانی است که جام شهادت نوشیدند و تا حال کمترین امتیازی هم به بازمانده گان شان داده نشده است؛ برعلاوهٔ آن در جهاد افغانستان تمام مردم اعم از مرد و زن و پیر و جوان به نحوی از انحاء اشتراک ورزیده اند.

و هستند هزاران مجاهد دیگری که بعد از خروج قوای شوروی از افغانستان، سلاح خود را زمین گذاشتند و در پی بدست آوردن امتیازات به مسابقه نپرداختند؛ فلهذا ایشان نمی توانند، این افتخارات را منحصر به خود بدانند و امتیازات بالایی را بدست بیاورند؛ با وجود این، اگرجهاد مقابل شوروی ها را که مطالبی دربارهٔ آن گفته آمد، میعاد وصول به این رتب عالی قرار بدهیم، به وضاحت پیداست که از قانون تخطی صورت گرفته و آقایان امتیازات خیلی ها زیادتر از حق قانونی را بدست آورده اند.

زیرا که هیچکس نتوانسته است و نمی تواند که در هشت سال و لو اگر تحصیلات اکادمیک نظامی هم داشته باشد، به رتبهٔ بریدجنرالی برسد، چه شد به اینکه به دگر جنرالی ویا ستر جنرالی برسد؛ فلهذا اگر دورهٔ هشت ساله جهاد را بر پایهٔ قانون عسکری که یک صاحب منصب برای بدست آوردن مقام های بلند آن را طی می نماید، درنظر بگیریم، هیچیک از این آقایانی که به مقام های دگر جنرالی وسترجنرالی رسیده اند، استحقاق بالاتر از جگړنی را پیدا کرده نمی توانند و اگر فی الجمله امتیاز بگیرند، دیگر به آن علاوه نمایند، به دگرمنی می رسند که معادل آن اگر دارای سواد باشند در بخش ملکی برای شان داده شود، نه در بخش عسکری و پولیس، چون مسلکی نیستند. اکنون اگر دولتمردان افغان بپذیرند که در مراحل ابتدایی مرتکب اشتباهی شده اند و با عجله اعمالی را انجام داده اند که با قانون مطابقت ندارد می توانند، با قبول مسوولیت و به خاطر آرامی وجدان خود رتبه های ایشان را به روی قانون تثبیت بفرمایند و اگر زیر بار نروند و اغماض می نمایند، یقین داشته باشند، ابر مرد متعهدی که آیندهٔ افغانستان را به عهده می گیرد، با تمام این آقایان که از هیچ به مقام ها بسا بلند عسکری رسیده اند، محاسبهٔ قانونی خواهد نمود و آقایان امتیازات را از دست خواهند داد. قانون بلا استثنا تطبیق خواهد شد و امانات بروفق هدایت قرآن کریم به اهل آن سپرده خواهد شد و دیگر بی سوادان، مقدرات جامعه را در دست نخواهند داشت و گلیم مصلحت گرایی برچیده خواهد شد. این جبر تاریخ است که آمدنی است و مثال های زیادی در این گونه موارد در دنیا به مشاهده رسیده است و ما باید برای چنین روزی دقیقه شماری نماییم. به امید سعادت و

## روسیه نه غواړي، چې امریکا دې...

دا څرګندونې په داسې حال کې کېږي چې روسیه هڅه کوي په افغانستان کې خپل نفوذ زیات کړي، په دې هېواد کې د وخت شوروي اتحاد کلونه مخکې سختې جګړې هم وکړې.

د امریکا د دفاع وزیر رابرټ ګېټس د پنج شنبې پر ورځ وویل چې په افغانستان کې د تروریزم ضد عملیاتو لپاره دځواکونو د روزنې په برخه کې اسانتیاوې برابرې کړي.

رویټرز اژانس زیاتوي، روسیې له وسلوالو طالبانو سره په جګړه کې له امریکا او ناټو سره مرستې برابرې کړي، د خپلې خاورې له طریقه یې لاروکړې او د وسلو په برخه کې یې همکاري کړې ده. خو افغانستان ته یې د خپلو سرتېرو له استولو ډډه کړې. روسیه وایي په افغانستان کې د تروریزم ضد جګړه باید د تل لپاره دوام ونه کړي.

کرملین دا څرګنده کړې چې کله په افغانستان کې پوځي ماموریت پای ته ورسېد، امریکا دې د شوروي اتحاد په پخوانۍ جمهوریت قرغزستان کې خپله هوایي اډه ختمه کړي.

## د ولسي جرګې رییس به له...

وړاندې شي او یا دې د کورنیو دندو اصولو په اړونده ماده کې تغییر راشي.

د ولسي جرګې له ۲۴۹ غړیو، څخه په پرونۍ (سلواغې پر ۳۰ مه) ناسته کې ۱۹۱ تنه حاضر وو، چې یوازې پنځو یې سیاسي حل لارې سره مخالفت وکړو او سره کارتونه یې پورته کړل، خو نورو ټولو ومنله او شنه کارتونه یې پورته کړل.

په ولسي جرګه کې د کندهار استازي او د یاد کمېسیون غړي خالد پښتون وویل چې د سیاسي حل لارې له مخې، یو ۱۲ کسیز کمېسیون، چې د ۶۱ کسیز کمېسیون له منځه جوړ شوی، د ولسي جرګې د مشرتابه لپاره به لږ تر لږه پنځه کسان غوره کوي او بیا به له نن څخه دوې ورځې وروسته دغه کسان عمومي کمېسیون ته وړاندې کېږي. عمومي کمېسیون به له دغو کسانو څخه یوتن غوره کوي، هغه ته به کمپاین کېږي او بیا به دغه شخص ته د جرګې په عمومي ناسته کې د رایو لپاره صندوق اینبودل کېږي.

دغه بې سیاله کاندید به هغه وخت بریالی وګڼل شي، چې په صندوق کې (۵۰+۱) یاني د جرګې د حاضرو له نیمایي څخه زیات وکیلان د تایید رایه واچوي. د پښتون په وینا، کېدای شي دغه مشر د هغو ۱۸ کاندیدانو له ډلې څخه وي، چې تراوسه یې د جرګې ریاست ته ځانونه کاندید کړي او یا کېدای شي، نوی شخص وي. پښتون، ددې پوښتنې په ځواب کې، چې که دغه کاندید هم له نیمایي زیاتې رایې تر لاسه نه کړي، نو څه به کېږي؟ وویل چې بله لاره به وروسته وکتل شي. د ولسي جرګې د مشرتابه لپاره د روانې میاشتې پر ۹ مه، تاکنې پیل شوې، خو تراوسه یوهم نه دی بریالی شوی، چې ۵۰+۱ رایې تر لاسه کړي.

د پڑواک د راپور له مخې، د اساسي قانون د ۸۷ مادې له مخې، د ملي شورا هره جرګه د کار په پیل کې له وکیلانو څخه یوتن د رییس په توګه د یوې تقنیني دورې لپاره، دوه وکیلان د لومړي او دویم نایب په توګه او دوه نور وکیلان د منشي او نایب منشي په توګه د یوه کال لپاره تاکي. دغه کسان په ټوله کې دیادو جرګو د اداري پلاوي په نوم یادېږي.

## امریکا او له طالبانو سره مخامخ ...

حمله وکړه او د طالبانو رژیم یې د القاعده د مېلمه پالنې په خاطر وپرځاوه.

د متحدو ایالتونو د بهرنیو چارو وزیرې وویل: «نن ورځ زمونږ د پوځي فشار زیاتېدا او پراخېدا طالبان بیا له ورته پرېکړې سره مخامخ کړي چې له القاعده سره اړیکې وشلوي، وسله پرمځکه کښېږدي، او د افغانستان په ټولنه کې د جذبېدو لپاره د افغانستان اساسي قانون ومني.»

د تاند د راپور له مخې، مېرمن کلنټن له پاکستان سره د امریکا د اړیکو د سړېدو په منځ کې وویل چې که پاکستان د امریکایي ضد احساساتو مخه ونه نیسي، نو هم به په داخل کې د بې ثباتۍ له خطر سره مخامخ شي او هم به په خپل ګاونډي کې د جګړې د پای ته رسولو هلې ځلې زیانمنې کړي.

## پرون په جلال اباد پر کابل بانک ...

کې د ولایت مقام په ۱۰۰ متري کې موقعیت لري.

د عامې روغتیا روغتون یو تن ډاکټر چې د نامه له څرګندولو یې ډډه کوله، پڑواک اژانس ته وویل چې روغتون ته ۱۰ مړي او له ۷۰ زیات ټپیان راوړل شوي دي.

د ننګرهار والي ویاند احمد ضیاء عبدالزي وویل، چې په دې پېښه کې تر اوسه پنځوس تنه ټپیان روغتون ته وړل شوي دي. هغه زیاته کړه، چې درې ځانمرګي بریدکوونکي، چې کابل بانک ته ننوتلي وو، هم وژل شوي دي. عبدالزي ومنله، چې په دې پېښه کې د امنیه قوماندانې مرستیال قاري امیرخان لېوال هم ټپي شوی دی.

## پیش شرط های کرزی برای...

خارجی بدون اطلاع به دولت افغانستان، یکتن از استادان پوهنتون البیرونی کاپیسا (مجاهد) را با خود برده است.

موصوف افزود که این کار، باعث تاسف وی شده است.

همچنان کرزی گفت که افغانستان باید در تمام امور کشوری خود، از مداخلات بیرونی مصوون شود، تاسیسات و ادارات موازی با دولت افغانستان از بین برود و پروسهٔ انتقال مسوولیت های امنیتی، از نیروهای بین المللی به نیروهای افغان در سال ۲۰۱۴ طوری که موافقه شده، پیش برود و هیچ عذری در این رابطه پیش نشود.

کرزی در سخنان امروز خود، وضاحت بیشتری در مورد اداره های موازی با دولت نداد؛ اما وی قبلاً تیم های بازسازی ولایتی (PRT) و کمپنی های خصوصی امنیتی را، ارگان های موازی با دولت افغانستان خوانده است.

رییس جمهور کرزی در مورد پایگاه های دایمی امریکا افزود: "نظرهمسایه گان ما نیز، برای ما اهمیت دارد؛ ما امروز صبح اعلامیهٔ روسیه را شنیدیم. ما در یک جزیره زنده گی نمی کنیم؛ در منطقه یی هستیم که پرتشنج است و براساس حقایق و منفعت افغانستان، بعد از مذاکره و بعد از تصمیم مردم، شورای ملی و لویه جرگهٔ افغانستان، این تصمیم را خواهیم گرفت، ولی در هرصورت، افغانستان صلح می خواهد و می خواهد که همسایه گانش مطمین باشند." در این حال، وزارت خارجهٔ روسیه گفته است که مسکو، از شنیدن خبر مذاکرات میان واشنگتن و کابل برای ایجاد پایگاه نظامی امریکا در خاک افغانستان، متعجب شده است. منبع افزوده است، چندی پیش، واشنگتن اعلام کرده بود که تا پایان سال ۲۰۱۴ نیروهای نظامی خود را از افغانستان خارج خواهد کرد و مسوولیت های امنیتی کشور را به دولت افغانستان خواهد سپرد.

کرزی در نشست خبری دیروز گفت کروشیا که ۳۲۹ عسکر در افغانستان دارد، با افغانستان در بخش های اقتصادی، تعلیمات صحی، انجنیری و غیره کمک می کند. موصوف اظهار امیدواری نمود که برای محصلان افغان، زمینهٔ تحصیل در آن کشور مساعد گردد. رییس جمهور کروشیا که برای اولین بار روز گذشته وارد افغانستان شده، گفت که کشورش برای فراهم ساختن زمینهٔ تحصیل برای محصلان افغان در کروشیا، همکاری خواهد کرد. به گفتهٔ موصوف، در مورد همکاری های دو جانبه بین دو کشور بخصوص در بخش های امنیت، معارف، صحت و اقتصاد، با رییس جمهور افغانستان گفتگو نموده است. وی خاطرنشان کرد که کشورش برای تامین صلح و ثبات در افغانستان، با جامعهٔ جهانی همکار است و تا زمانی که افغانستان نیاز داشته باشد، به کمک های خود با این کشور ادامه می دهد. وی سال ۲۰۱۴ میلادی را سال مهم برای مردم افغانستان خواند و گفت که کروشیا، بعد از آن نیز، به کمک های خود با افغانستان در بخش های نظامی، معارف و اقتصاد ادامه خواهد داد. رییس جمهور کرزی در نشست خبری دیروز، حملهٔ انتحاری روز گذشته در خوست را که سبب کشته و زخمی شدن ۵۲ تن گردید و همچنان قتل دو تن از عساکر جرمنی توسط یک سرباز اردوی ملی در بغلان را تقبیح کرد.

وی افزود: "برای ما بسیار آزاردهنده است و مراتب تسلیت خود را برای حکومت جرمنی اظهار می نماییم." کرزی گفت که جرمنی، یکی از دوست های قدیمی وتاریخی افغانستان است و همیشه در کنار مردم افغانستان بوده است.

# د سولې عالي شورا، یو سمبولیک نوم!

**نسیم بریال**



د سولې عالي شورا که څه هم له نامه نه یې ښکاري چې عالي او لوړه شورا ده، خو په حقیقت کې ښایي دا نوم ورته کفایت ونه کړي، ځکه عالي شورا او بیا هغه شورا چې د یوه هېواد په ملي سطحه جوړ پرې باید ډېره عالي وي او عالي موخې ولري او د همدې عالي موخو د ترلاسه کولو لپاره عالي هلې ځلې او په عالي سویه هڅې وکړي نه د نورو وړو او نسبتاً لویو شوراګانو په څېر. ځکه د همدې لوړو موخو او عالي کړنو لپاره دا شورا هغه مهال له ګڼو اندېښنو او هیلو سره ملـه را منځ ته شوه، چې په هېواد کې د روانې جګړې جړې هرې خوا ته وغځېدلې او ورځ په ورځ دا جګړه یوه نوې پړاو ته ننوځي او د دولت وسلوال مخالفان هره ورځ د پیاوړتیا او ځان غښتلتیا هڅې کوي او تر ډېره په خپلو هڅو کې بریالي هم دي، او دا خبره ټولو ته څرګنده هم ده. دا چې دا شورا له وسلوالو سره د خبرو اترو او تفاهم په موخه د ملي مشورتي جرګې د پرېکړې پر اساس د تلې یا میزان د میاشتې پر پنځه لسمه نېټهٔ پرانېستل شوه او د شپېتو تنو غړو په ګډون، چې ډېرې یې پخواني جهادي مشران دي، پر کار پیل وکړ، نو ورسره د خلکو هیلې هم یو ځه را ویښې شوې او د خلکو امید پیدا شو، چې ښایي د دې عالي شورا! په جوړښت سره به په هېواد کې سوله ټینګه او د جګړو لمنه به ټوله شي، خو له بده مرغه، د ولس دا هیله پوره نه شوه، بلکې ولس لا نور هم اندېښنو پر دریاب سر شو او د سولې لپاره ژوندۍ شوې هیلې یې ببرته مړاوې او ورځېدې او نهیلیو یې پر زړونو چاپه واچوله.

دا ځکه چې د سولې دې لوړې یا عالي شورا، چې باید لوړې او عالي موخې یې ترلاسه کړې وای او عالي عالي کارونه یې د سولې پر وړاندې سرته رسولي وای، د سولې په برخه کې یې تر اوسه هېڅ داسې څه نه دي کړي، چې حساب پرې وشي، دا سمه ده، دوی به وایي، چې موږ ډېر څه کړي، خو په حقیقت کې دوی هېڅ هم نه دي کړي او یوازې پر خپلو نمایشي مېټېنګونو، غونډو او سفرونو باندې ویاړي او دا د ځان او سولې لپاره لوی کارونه بولي، خو افسوس د دغه درد ېدلي او کړېدلي ملت پر حال! چې څومره په بدبختیو او خراب حالت کې ژوند کوي، څه پرې تېرېږي او په کومو هیلو او له کومو اندېښنو سره شپې او ورځې سبا کوي او بالمقابل د دوی پر برخلیک او ژوند باندې څوک او څه وړ کسان لوبې کوي؟

په هر صورت د سولې عالي شورا چې له جوړېدو یې نژدې ځلور میاشتې تېرېږي، تر اوسه یې د سولې په برخه کې هېڅ د پام وړ کار نه دی کړی او له وسلوالو مخالفانو سره د سولې د خبرو اترو د پروسې په هکله هېڅ کوم جوړ جاړي ته نه دي رسېدلي او یا په بله وینا د سولې دا لوړه شورا په خپلو کړنو کې پاتې راغلې او پر دې نه ده توانېدلې، چې خپلې اصلي موخې ته ورسېږي او د دې لوی لامل هم پخپله د دغې شورا تشکیلاتي جوړښت دی، ځکه د دې شورا ډېری غړي داسې کسان دي، چې تر پورونه پخپله وسلوال وو او د دولت له اوسني مخالف وسلوال ځواک یا طالبانو سره پر جګړه بوخت وو، خو نن د سولې سپین لارویان دي، نو په دې صورت کې د دولت وسلوال مخالفان هم په اسانه سولې ته زړه نه شي ښه کولای او دا چې دوی او طالبان چې تر پرونه پورې د جګړې دوه لوري وو، او نن یې یوه لوري ته تر سر اړولي امتیازونه ورکول کېږي او بل لوری په تور لېست کې شاملېږي، دا پخپله د سولې پروسه له ستر خنډ سره مخ کوي، ځکه هغه ځوک چې په مخالف لوري کې قرار لري او هغه ځوک چې مخالف لوري ته د سولې بلنه ورکوي، له هره پلوه او د هر امتیاز له مخې د ځمکې او اسمان هومره توپیر لري، نو په دې صورت کې څنګه هغوی خپل ضمیر قانع کړي او سولې ته غاړه کېږدي؟

پورتنیو لنډو یادونو ته په پام سره، که چېرې د سولې لپاره هر اړخیزې، مناسبې، پر ځای او لکه څنګه چې ښایي هغسې هڅې او کړنې ترسره نه شي، نو تش په نامه سوله او تش په نامه د شوراګانو جوړل هېڅ مانا نه لري، دا کار نه یوازې سوله نه شي راوستلای، بلکې سوله نوره هم زیانمنولای شي. نو د دې لپاره باید دادي، چې د دولت وسلوال مخالفان هم د دې خاورې اصلي زامن وبلل شي، د هغوی غوښتنې ومنل شي او هغوی ته لوی لوی امتیازونه هم په دولت او هم په نورو سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو چارو کې ورکړل شي، ژوند یې تضمین شي او د واقعي ورونو په ستر ګه ورته وکتل شي، له دې پرته د سولې عالي شورا کړنې او د سولې هره پروسه بې ځایه او بې مانا ده.

## تظاهر کننده گان در کشورهای شرق میانه و شمال افریقا چه می خواهند؟!

**تظاهرات در بحرین، بخشی از موج ناآرامی های ضد دولتی است که در هفته های اخیر به علت بیکاری، بلند رفتن قیمت ها، فساد اداری و وجود زمامداران مستبد و مطلق العنان سرتاسر شمال افریقا و شرق میانه را در برگرفته است.**

**گفته می شود، در تظاهرات روز پنجشنبه در نتیجهٔ حمله پولیس در منامه پایتخت بحرین چار تن کشته وبیش از ۱۵۰ تن زخمی گردیدند. اردوی بحرین در اعلامیه یی که از طریق تلویزیون دولتی پخش گردید گفته است، بعد از سرکوبی خونین، اردو نقاط کلیدی منامه پایتخت را در کنترول دارد. در اعلامیه همچنان گفته شده، به منظور تامین نظم هرگونه اجتماعات منع می باشد.**

**در تظاهراتی که از ص۲**

**کنوانسیون رفع کلیه تبعیضات علیه زنان**

**ماده شانزدهم :۱– الف: حق مشابه برای ازدواج .**

**ب: حق مشابه در انتخاب آزادانه همسر وصورت گرفتن ازدواج به رضایت کامل آنان.**

**ج: حقوق وتعهدات مشابه در طی دوران زناشویی و پس از جدایی.**

**این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید**

**برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید:** ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ – ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :– ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :– ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :– ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com